د ستراوځواکمن ښتن تعالی په سپېڅلي نامه

Logar

لوګر

میاشتنۍ خپرونه

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

یکشنبه د۱۳۹۴ کال دغبرګولې میاشتې اولسمه د ۲۰۱۵ عیسوي کال دجون اومه (۱) پرله پسې ګڼه (٦٩) لومړی کال لومړۍ ګڼه

د حضرت علي(رض) غوره ویناوې

امیدواراوسه، ځکه چې ناامیدي مرګ دی.

څوک چې له پیسونه تیرشی هغه دخدای(ج) پرهیزګاراوخاص بنده دی.

پام کوه چې ددوستانوله دښمنانو سره دی دوستي ونه کړئ.

# والی جدید لوگربه کارش آغازنمود

محمد حلیم (فدایی) به اساس پیشنهاد ادارۀ مستقل ارگان های محل ومنظوری رئیس جمهور که قبلاً بحیث والی ولایت لوگر



تعین شده بود ، امروزطی محفل خاصی به حیث والی این ولایت معرفی وبه کارش آغازنمود.

محفلی که بدین مناسبت درمقام ولایت لوگرراه اندازی گردیده بود فرید الله ماموندزی معین پالیسی اداره مستقل ارگان های محل، داکترمحمدآصف صدیقی نائب دوم مشرانوجرگه، شهزاده مسعود مشاوراسبق رئیس جمهور، نمایندگان مردم لوگرومیدان وردگ درولسی جرگه، فیض محمد میرزازاده معاون مقام ولایت، روسای دوایردولتی بزرگان ومتنفذین قومی درآن اشتراک ورزیده بودند. فیض محمدمیرزازاده معاون مقام ولایت وحسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی ضمنی خوش آمدید به محمد حلیم (فدایی) بحیث والی این ولایت، وعده همکاری همه جانبه درراستایی تحقق اهداف مردم لوگربه وی داد وازخداوند موفقیت مزید شانرادرپیش برد امورتمنانمودند. حسیب الله ستانکزی رئیس شورای ولایتی لوگرازوالی جدید خواست که درراستای تامین امنیت توجه جدی نماید. فرید الله ماموندزی معین پالیسی اداره مستقل ارگان های محل خاطر نشان ساخت که والی جدید از تجربه و ظرفیت خوبی در بخش حکومت داری محلی برخوردار است و خواهد توانست که در زندگی مردم تغییرمثبت بیاورد.

محمدآصف صدیقی نائب دوم مشرانوجرگه طی صحبت هایش مشکلات عمده این ولایت را مورد بحث قرارداد وازوالی خواست که کارساخت پوهنتون وآوردن برق به این ولایت را ازالویت های کاری اش قراردهد. محمد حلیم (فدایی) والی جدیدالتقررولایت لوگر که ازتحصیلات عالی وتجارب خوب کاری برخورداراست درجریان سخنانش وعده داد :که درراستایی خدمت به مردم این ولایت تلاش های مزیداش را بخرچ خواهد داد. وی تصریح کرد که پیش برد امور را بادرنظرداشت مشوره های مسئولین ذیربط ومردم این ولایت انجام خواهدداد ، همچنان جهت تحقق اهداف مردم مجاهد پروراین ولایت خواهان همکاری همه جانبه مردم گردید وبه مردم ولایت لوگروعده سپرد که درراستای پیش رفت اموردراین ولایت تلاش خواهدکرد. این درحالیست که نیازمحمد امیری والی اسبق ولایت لوگر ازمدت یک ونیم سال بدینسوبه سمت والی دراین ولایت ایفایی وظیفه نمود. گفته میشود که محمدحلیم(فدایی) قبلاً به حیث والی میدان وردگ مدت چهارسال ایفایی وظیفه نموده است.

# دپښتو له ورځې څخه لمانځنه وشوه

د لومړۍ ځل لپاره په لوګرولایت کې د پښتو ورځ د یولړشاندارو مراسمو په ترڅ کی ولمانځل شوه. دغه پرتمینه غونډه دغبرګولې په اتمه دلوګراطلاعاتو او فرهنګ ریاست دکنفرانسونو په تالار کی جوړه شوی وه، چې پکې داطلاعاتواوفرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل، دولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزی، ګڼ شمیرځوانانو او فرهنګپالو ګډون کړې ؤ. په پیل کی دپاک قرآن څو مبارک آیاتونه تلاوت شول. ورپسی دلوګر ولایتی شورا رئیس حسیب الله ستانکزي دنومړې ورځې په اړه ګډونوالوته خبری وکړی وې ویل: ددغی ورځې دلمانځلو څخه زمونږ موخه دهیوادټولو میشته قومونو دیو ځای کیدو او ددوی ترمنځ دیوالی او اتحاد رامنځ ته کیدل دي. داطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق «پوپل» په خپلو خبروکې وویل چې دالله(ج) په فضل سره دهیواد اوپه ځانګړې توګه دلوګر په کچه میشت قومونو دیو بل سره دښه سلوک او ښې رویې په در لودلو دتعصب لمنه له دی ولایت نه پرې کړیده او ددې ولایت هراوسیدونکی دې ته اجازه نه ورکوي چې څوک قومي او ژبني مسایلو ته لمن ووهي. پوپل زیاته کړه چې دا دپښتنو حق اودنده ده چې ددې ورځې په ویاړ راټول شي اودخپلې ژبې په پیاوړتیاکې رغنده ګامونه واخلي.




## سرلیکنه

### دنوي والي محمد حلیم فدایي څخه دلوګریو غوښتنې

لوګر دپلازمینې کابل سویل دروازه ده، چې په ۷۵ کیلومتري کې پروت ولایت دی او دستراتیژیکې نقطې له نظره مهم او دامنیت خوندیتوب یې دپلازمینې کابل تکیه ده، چې دنوې والي د کاري لومړیتونو څخه؛ دې ولایت ته دډاډمن امنیت اوثبات په راوستوکې دهلې ځلې و کړي. مرکزي حکومت دې هم دلوګرامنیت په ښه کیدو کې خپل پام را واړوي، که دلوګرامنیت کړکیچن شي، نودا جوته ده چې دپلازمینې کابل امنیت هم له ګواښونو سره مخامخ کیدای شي. نودلوګراوسیدونکي؛ امنیت ته لیوال دي دوی وایي: نوی والي کومې ژمنې چې په لومړي ورځ دلوګرولس سره وکړې، یادو ژمنو ته دعمل جامه ورواغوندي، کومو امنیتي ستونزو سره چې لوګریان مخامخ دي، دیادوستونزو دحل په خاطر کوټلي ګامونه واخیستل شي. دلوګریو یواځنۍ غوښتنې؛ په لوګرکې دډاډمن امنیت تامین، خلکوته دکارزمینه برابرول، اداري چارې له فساد څخه پاکول اود دولتي ځمکو غاصبین عدلي اوقضایي اداروته ورپیژندل، په دولتي اداروکې د تجربه لرونکو او کارپوهو کسانو په دندو ګمارنه، د روابطو نه ضوابطو ته ترجیح ورکول هغه اساسي غوښتنې دي، چې دلوګرپه ښیرازۍ او آبادي کې رغنده رول لوبولی شي.د لوګر اوسیدونکي وایي: چې له دې مخکې لوګرولایت ته راغلي والیان، په لومړیو ورځوکې یې له ولس سره ډول ډول ژمنې کړې وې، ولې هغه ژمنې برعکس شوې چې لوګریان بیا دستونزو سره مخامخ شول. ددوی په خبره؛ که چیرته نوي والي خپل مسؤلیت په سمه توګه ادا کړي، دخلکو او دهغو کسانو چې زړونه یې په لوګریو نه خوږیږي غلطو مشورو او خبروته یې غوږ ونه نیسي، نوپه کارونوکې به یې نوښت اومثبت بدلون را شي. همدارنګه دوی د والي نه په کلکه غوښتنه کوي، چې په دې ولایت کې کوم کسان چې د دولتي څوکیو څخه ناوړه ګټه پورته کوونکي دي، ورسره دې قانوني چلند وشي. لوګرولس په دې آند دي، چې نوي والي د تجربې او پوهې خاوند دي، نو په داسې شخصیت کې چې کوم ستر اصلیت اودکار ښه والی لیدل کیږي، هرومرو به ځان ته اجازه ورنه کړي، چې لوګرته په تیرو وختونوکې کوم والیان چې لوګرته خدمت ندی کړي په پل یې قدم کیږدي. دنوي والي کاري خدمتونه په لوګرولایت کې خلکوته به هلته په ډاګه شي، چې والي له خپل کاري وړتیا اونوښت نه کار واخلي او دلوګریو لپاره دخدمت جوګه وګرزي.

اداره

ژبه دهرملت ډیرارزښتمند میراث دی چې دیوه ښکلې، نازک اوپیچلې هنري اثرپه شان همیشنۍ پاملرنې ته اړتیالري.